د افغانستان سره د آلمان همکاری
مطبوعاتی خبر

د افغانستان د انرژۍ په سکتور کې د سوداګرۍ د فرصتونو په باب سروې

کابل، د ۱۳۹۲ کال د وری د میاشتې ۲۱مه نیټه– پرون د افغانستان د نوې کیدونکې انرژۍ اتحادیې (AREU) او د المان د لمریز صنعت فدرالي ټولنې (BSW) په افغانستان کې د لمریزې انرژۍ لپاره د بازار د سروې یو څېړنیز ریپوټ وړاندې کړ چې د فوټوولټائیک په سکتور کې د خصوصي شرکتونو لپاره د سوداګرۍ فرصتونه تشریح کوي. په افغانستان کې د افغان-المان د همکارۍ د انرژۍ د پاره د نهادي پراختیا پروګرام (IDEA) د نومورو ټولنو تر منځ د همکارۍ لاره هواره کړه او افغاني اتحادیې ته یې مسلکي مشوري برابرې کړې.

په نومورې سروې کې د لمریزې انرژۍ د پاره د افغانستان لوی پوتنسیال په پراخه توګه تائید شوی دی. خو د بازار د شرایطو او د سوداګرۍ د فرصتونو په اړه یو جامع تحلیل تر اوسه پورې ترسره شوی نه دی. دغه د لمریز بازار څېړنه اوس د خصوصي پانګونې لپاره وړاندیزونه برابروي. دا راز پانګونې به نه یوازې په هیواد کې د برېښنا په شتون باندې مثبته اغیزه وکړي، بلکه همدارنګه به د سوداګرۍ د فرصتونو د کارولو سبب شي او په دې توګه به د خلکو لپاره کسب او کار او عواید منځته راوړي.

ښاغلی رابرت دلګر په افغانستان کی د انرژی بسټیزه پراختیا د پروګرام ریس د افغان-آلمان د همکاری لخوا داسی وویل: افغانستان خپل داخلی نوی کندونکی انرژی منابعو څخه کار اخیستلیو کی تنګونې لری تر څو غوښتل شوی انرژی برابره کړی. افغانستان به تر ۲۰۲۰ کاله پوری وتوانیږی چی ۵۰۰ میګاواټه نوی کېدونکی انرژی تولید کړی. د آلمان د انرژی پروګرام ژمن دی چی افغانستان د انرژی سکتور خپل موخو ته ورسوئ.

ښاغلی کابل خان تدبیر د افغانستان د نوی کیدونکی انرژی اتحادیې ریس زیاته کړه: زه غواړم چی د انرژی بسټیزه پراختیا د پروګرام څخه د دوی د مشورتي خدمتونو او د افغانستان د نوی کیدونکی انرژی اتحادیې او د آلمان لمریز صنعت فدرالي ټولنې ترمنځ د همکاری رامنځ ته کولو لپاره مننه وکړم. دا ۱۰۰۰ غړی شرکتونه کولای شی چی د افغانستان د سولار بازار وخیړی او ملاتړ کړی.

ښاغلی آمان الله غالب د اوبو او انرژی وزارت د انرژی معین د افغان-آلمان همکاری مالی ملاتړ او د آلمان لمریز صنعت فدرالي ټولنې تخنیکی ملاتړ څخه ممنه وکړ. هغه په افغانستان کی د انرژی بسټیزه پراختیا د پروګرام د دوامداره مرستو څخه مننه وکړ او وویل چی د بازار دا سروي افغانستان وتوانیی چی خصوصي پانګوني جذب کړی.

افغان حکومت، د اقتصادي پراختیا لپاره، انرژي د یوې محرکې قوې په حیث تعریف کړیده. له دې امله، هغه حکومت په دې وروستیو وختو کې د نوې کیدونکي انرژۍ له لارې د ۵۰۰ میګاواټو برېښنا د تولید پنځه کلن پلان پیل کړی دی. دغه لوړې موخې ته د رسیدو د پاره د خصوصي سکتور ونډه ډېره مهمه ده. د نومورو دوو ټولنو له خوا دغه ګډه څېړنه به د خصوصي پانګونې د جذبولو په لاره کې مرسته وکړي.

د Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH اداره، د افغانستان سره د المان د همکارۍ د پروګرام په چوکاټ کې، د افغانستان د انرژۍ او اوبو د وزارت سره په هیواد کې د نویکیدونکې انرژۍ د ترویج په لاره کې د ۲۰۰۳ کال راهیسې مرسته کوي. نومورې اداره چې د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا د وزارت (BMZ) له خوا تمویلیږي، د افغانستان د انرژۍ او اوبو وزارت د نهادي او سازماني پراختیا په موخه د پالیسی د سلامشورو خدمتونه او تخنیکي ملاتړ برابروي.

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de